مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ١٤٠٠ د وري لسمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۳۰مه | ۷۰۱مه ګڼه

# د سولې او اوربند فرصت؛

## امریکا: افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې ختمېږي، روان بهیر هیله بښونکی دی


۳

### د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې ځنډ او د ترکیې پر غونډه یې اغېز

۲ مخ

### سیاسي عقلانیت

۲ مخ

### څوک په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو پر جنګي جنایتونو پرده غوړوي؟

۳ مخ

## هېواد: د اسیا زړه- استانبول پروسې پایلې د افغان سولې لپاره مهمې دي

افغان حکومت وايي، دوی هیله من دي چې د اسیا زړه -استانبول پروسې د بهرنیو چارو وزیرانو نهم دوه ورځنی کنفرانس به د سولې پروسې په اړه د سیمه‌ییزې اجماع لا پیاوړې کولو کې مرسته وکړي.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد وايي، چې د اسیا زړه-استانبول پروسې د لوړپوړو چارواکو غونډه د تاجکستان په مرکز دوشنبه کې جوړېږي.
هغه زیاته کړه، چې تمه ده د کنفرانس په دویمه او وروستۍ ورځ د افغانستان ولسمشر محمد اشرف غني او د تاجکستان ولسمشر امام علي رحمان هم ګډون او وینا وکړي.
هېواد زیاتوي: «په غونډه کې به شاوخوا ۱۷ د بهرنیو چارو وزیران او د مختلفو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازي ګډون وکړي. له دې غونډې هدف په افغانستان کې د سولې او ثبات د ملاتړ په سلسله کې د اجماع تقویت، د سیمې د هېوادونو د سیاسي، اقتصادي او امنیتي همکاریو پراختیا ده.»
د یادونې ده چې د اسیا زړه- استانبول پروسه د ۲۰۱۱ز کال په نومبر کې د کابل او انقرې په نوښت رامنځته شوه. له هغه وخت راهیسې هر کال له ۲۰۲۰ز کال پرته چې کرونا وبا پکې اوج ته رسېدلې وه، دا کنفرانس د سیمې د هېوادونو په کوربه‌توب ترسره شوی دی. سږنی ناسته د سولې او پراختیا لپاره د اجماع د پیاوړتیا په نوم ترسره کېږي.

### د بشري حقونو کمېسیون:


## د جګړې ښکېلې غاړې د ملکیانو خوندیتوب ته پاملرنه نه کوي



۵ مخ

### څېره

۴ مخ



## توني موریسون

توني افریقایي الاصله امریکایي لیکواله وه، چې د تورپوستو د حقونو لپاره یې ټول عمر مبارزه وکړه. هغې دا مبارزه د داستان په ژبه کوله او نوبل جایزه یې هم ګټلې ده.

## سعیدي: د کندهار د زعفرانو په کښت کې د پام وړ زیاتوالی راغلی



د کندهار چارواکي وايي چې د دغه ولایت د زعفرانو په کښت کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.
د کندهار د کرنې او مالدارۍ رییس حفیظ‌الله سعیدي وايي، د کندهار اقلیم د زعفرانو کرکېلې ته ډېر مناسب دی او زعفرانو یې هم لکه د هرات د زعفرانو په څېر ښه نتیجه ورکړې ده.
د کندهار د خاکرېز ولسوالۍ اوسېدونکی شبیر احمد لومړنی کروندګر دی، چې د لومړي ځل لپاره یې نهه کاله مخکې په خپله ځمکه کې زعفران کرلي دي. نوموړي زیاته کړې، د زعفرانو د کښت لګښت کم، خو عاید یې زیات دی او هم د کوکنارو یو ښه بدیل دی.
د کندهار د کرنې او مالدارۍ د رییس سعیدي په وینا، په دغه ولایت کې اوس ډېرو بزګرو دې کښت ته مخه کړې او په یاد ولایت کې اوس هر کال شاوخوا ۵۰ کیلو ګرامه زعفران تولیدېږي.

## ارګ: افغانستان و تاجکستان پنج تفاهم‌نامهٔ همکاری امضا کردند



ارگ ریاست‌جمهوری می‌گوید که افغانستان و تاجکستان پنج تفاهم‌نامهٔ همکاری را در بخش‌های مختلف امضا کرده‌اند. این تفاهم‌نامه‌ها در جریان سفر محمداشرف غنی، رئیس‌جمهور به تاجکستان امضا شده است.
آقای غنی و امام‌علی رحمان، رئیس‌جمهور تاجکستان هنگام امضای این تفاهم‌نامه‌ها حضور داشته‌اند. طبق خبرنامهٔ ارگ ریاست‌جمهوری، این تفاهم‌نامه‌ها در بخش‌های سیاسی، امنیتی، تجارتی، ترانزیتی، ترانسپورتی، انرژی و فرهنگی امضا شده است. در خبرنامه نیز گفته شده است که رئیسان جمهور دو کشور اعلامیهٔ مشترک نشست دو جانبهٔ افغانستان و تاجیکستان را امضا کرده‌اند.
محمداشرف غنی صبح دیروز در رأس یک هیأت عالی‌رتبهٔ دولتی در یک سفر رسمی دو روزه به تاجکستان رفت. هدف از سفر آقای غنی شرکت و سخنرانی در نهمین دور نشست وزیران خارجهٔ «قلب آسیا_روند استانبول» گفته شده است.
این نشست قرار است امروز سه‌شنبه با حضور وزیران خارجهٔ ۱۴ کشور و رئیسان جمهور افغانستان و تاجکستان برگزار شود. وزیران خارجهٔ افغانستان و تاجکستان به طور مشترک ریاست این نشست را برعهده خواهند داشت.
تقویت اجماع منطقه‌یی دربارهٔ صلح افغانستان و توسعهٔ هم‌کاری‌های سیاسی، امنیتی و اقتصادی میان کشورهای منطقه از موضوع‌های اصلی بحث در این نشست خواهد بود.



## سرلیکنه

### د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې ځنډ او د ترکیې پر غونډه یې اغېز

په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د بهرنیو ځواکونو د وتلو په تړاو لا هم لانجه شته، په ترکیه کې د لویې بین الافغاني غونډې لپاره هڅې رواني دي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړی استازی له ترکي چارواکي سره د دې غونډې په اړه خبرې کوي. افغان سیاستوال او د مصالحې عالي شورا هم دا غونډه برخلیک ټاکونکې ګڼي. له دې سره امریکا وایي چې تر مې پورې خپل ځواکونه له افغانستان څخه نه شي ایستلی او ویل کېږي چې امریکا او طالبان د ځواکونو په وتلو کې پر ځنډ همدا اوس خبرې کوي. که د طالبانو او امریکا ترمنځ د ځواکونو د وتلو یا نه وتلو په اړه یوه هوکړه او پرېکړه ونه شي، د ترکیې پر غونډې به یې اغېز څه وي؟

تر اوسه پورې یو څه روښانه دي او هغه دا چې تر مې میاشتې پورې به امریکایي او ناټو ځواکونه له افغانستان څخه ونه وځي او د دوحې د هوکړې خلاف به دا ځواکونه په افغانستان کې پاتې وي. دا چې په دې اړه به نوې هوکړه کېږي او که څنګه، لا معلومه نه ده، خو امریکا غواړي په دې اړه له طالبانو سره خبرې وکړي او ویل کېږي چې دا خبرې پیل شوې هم دي. امریکا په دوو دلایلو له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو په وتلو کې ځنډ کوي: لومړی دا چې په بین الافغاني خبرو کې پرمختګ نه دی شوی او امریکایي چارواکي وېره لري چې د دوی د ځواکونو وتل به افغانستان د خونړیو جګړو لوري ته بوځي او ښایي هغسې بدلونونه پکې راشي، چې بیا دوی ته په سرخوږي واوړي. دویم دا چې د امریکا او ناټو ترمنځ د ټرمپ د واکمنۍ پر مهال په دې اړه همغږي نه وه، اوس چې بایډن راغلی، غواړي هر څه له ناټو سره په همغږۍ او ګډه وکړي؛ ځکه نو د ځواکونو وتل به څو میاشتې نور هم ځنډېدلي وي. امریکا په دې اړه له طالبانو سره خبرې کوي او ښایي د دې چارې د منلو لپاره طالبانو ته ځینې امتیازات هم ورکړي.

که د طالبانو او امریکا ترمنځ د ځواکونو د وتلو او یا په وتلو کې د ځنډ په اړه هوکړه ونه شي، د ترکیې غونډه به ناکامه شي، ځکه چې اصلي لانجه به پاتې وي او طالبان به تمایل ونه لري چې بین الافغاني توافق وشي. که په دې اړه د دواړو لورو ترمنځ توافق وشي، بیا به د ترکیې غونډه بریالۍ وي. له بله اړخه که توافق پر دې وي، چې د ځواکونو په وتلو کې څو میاشتینی ځنډ راشي، نو بیا به د ترکیې غونډه هم ځنډېږي. له همدې امله دا مهمه ده چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د ځواکونو د وتلو په اړه څه پرېکړه کېږي.

که د بهرنیو ځواکونو پر وتلو یا په وتلو کې پر ځنډ توافق کېږي، خو مهم اړخ دا دی چې باید په بین الافغاني خبرو کې اساسي پرمختګ وشي، دواړه اړخونه نرمښت وښیي، اوربند وشي، بندیان خوشې شي او د سولې په برخه کې نور مهم او اساسي ګامونه واخیستل شي.

# سیاسي عقلانیت

محمد اکبر پیمان

موږ د یوې داسې ټولنې اوسېدونکي یو چې د ژوند ډېرې پرېکړې مو د عقل پر ځای په احساساتو ولاړې دي. تکبر، ضدیت، ریشخند وهل، ځان تر نورو لوړ ګڼل، له نورو کرکه کول، پر عقل ولاړ خویونه او کړنې نه دي. همدا خویونه او کړنې موږ د ګناهونو او جرمونو په لور هڅوي او د دې لپاره چې ځان تر نورو کم راته ښکاره نه شي، هر ډول معاملې ته تن ورکوو چې دا کړنې بیا اداري او حتی اخلاقي فساد ته لاره هواروي او کله کله خو همدا خویونه او کړنې موږ لویو جرمونو ته هڅوي، چې اوسنۍ غلاوې او قتلونه یې ښکاره بېلګې دي. که یو ورور په دولت کې ښه مقام تر لاسه کړ، بل یې د همدې سکه ورور پر ضد له طالب او نورو ډلو سره یو ځای کېږي او په هره طریقه چې وي د خپل ورور د پرمختګ مخه نیسي.

له مذهبي متونو څخه افراطي تعبیر هم دې نا معقولو کړنو ته یو ډول توجیه ورکوي او حتی ځینې مذهبي خلک د دې ډول کړنو مسوولیت هم پر خدای تاوانوي او وایي چې که خدای ونه غواړي، زه حرکت نه شم کولای او ځانته د یوه روباټ په سترګه ګوري. دا نادودې یوازې زموږ په عامو خلکو کې نه دي رواج؛ بلکې زموږ لوستي خلک او حتی سیاستوال هم د عقل له نعمت څخه محروم دي. د دې ځلوېښت کلنې غمیزې بنسټ هم د همدې احساساتي او له عقلانیت څخه بې برخې سیاستوالو کړنې او افراطي نظریات وو چې په اور کې نن هم دا احساساتي ملت سوځي. داوود خان د خلقیانو او پرچمیانو (چې ځینې خلک ورته کمونیستان هم وایي) په ملګرتیا د یو احساساتي او خام سیاست په پایله کې له ظاهر شاه سره ډېر لوی خیانت وکړ او د قدرت د تر لاسه کولو لپاره یې شاهي نظام (د ولسواکۍ طلایي دوره) له منځه یووړه. زموږ د جمهوریت بنسټ ایښودونکي په سیاست کې دومره خام وو، چې همدې پخوانیو ملګرو یې (خلقیانو او پرچمیانو) د ده د مرګ لپاره ټانګونه را روان کړل او دی له ځانه نه و خبر. کودتاه ډېر لوی تیاری او زښته ډېر کار غواړي څو ځانته د حکومت په هره برخه کې پلویان پیدا کړي. دا ټول کارونه د داوود خان د حکومت په دوره کې تر سره شول او داوود خان هغه وخت خبر شو چې دې ده د پاچاهۍ قصر محاصره شوی و؛ خبره تر خبرې تېره وه او په پای کې د خپلې کورنۍ له ټولو غړو سره یو ځای ووژل شو. له داوود خان وروسته د دې خاورې یو بل نابغه د ثور د انقلاب په پایله کې قدرت ته ورسید. نورمحمد تره کي قدرت ته له رسیدو سره سم د خلکو په وژلو لاس پورې کړ او سلګونه زره ککرۍ یې تر خاورو لاندې کړې. د هغه وخت د شوروي اتحاد له ولسمشر بریژنیف سره نورمحمد تره کي د ټلیفوني خبرو په جریان له هغه څخه غوښتي وو، چې د تاجکستان او ازبکستان عسکر په افغاني جامو کې د ده د مخالفینو د وژلو لپاره را ولیږي، څو څوک ونه پوهیږي چې دا د شوروي عسکر دي. برژنیف هم د تره کي ظلم، قساوت او بې عقلۍ ته حیران پاتې شوی و او د هغه غوښتنه یې په کلکه رد کړې وه. دا سړی د خلکو په وژلو او پخپلو لیونیو کړنو (چې دوی ورته اصلاحات ویل) کې داسې غرق او نشه و، چې خپل وفادار شاګرد یې کار ورخلاص کړ. د ده وفادار شاګرد (حفیظ الله امین) چې په دوی کې تر ټولو هوښیار بلل کېده، هم د فیل په غوږ کې ویده و. کله چې شورویانو په ډوډۍ کې زهر ورکړل او د هغه د مرګ پلان یې جوړ کړی، ده په هغه حالت کې هم چیغې وهلې چې روسان خبر کړی چې را سره مرسته وکړي. دا یې تر ټولو هوښیار کس و چې خپل دوست او دښمن یې تر اخره ونه پېژانده. د دې صحنې یو عیني شاهد دولت وزیري له یک ټلویزیون سره په یوه مرکه کې دې خبرې ته اشاره کړې ده او د هغه وخت د حکومتي مشرانو له نامعقولو کړنو یې پرده پورته کړې ده. د ښاغلي وزیري په خبره، امریکایانو په لوی لاس شورویان په افغانستان کې را ښکېل کړل. امریکایانو د امین په وخت کې داسې اوازه خپره کړه چې ګواکې امریکا به د پاکستان په ملګرتیا په نورستان او ځینو نورو ولایتونو کې د افغانانو یو جدا حکومت اعلان کړي او امریکا، غرب او عرب به یې په رسمیت وپېژني. دې افواهاتو روسان وارخطا کړل او پر افغانستان یې یرغل وکړ، امین یې وواژه او کارمل یې پاچا کړ. امریکا د وخت شوروي اتحاد په افغانستان کې ښکېل کړ او د ویتنام د ماتې غچ یې ورڅخه واخیست؛ خو موږ تر اوسه هم فکر کوو چې موږ د نړۍ تر ټولو زړور او غیرتي ملت یو، چې شوروي ته مو ماتې ورکړې ده. کارمل د شوروي د عسکر په مرسته د خلکو وژلو ته زور ورکړ او ډېر انسانان یې ووژل. د هغه وخت د شوروي له ولسمشر ګرباچف سره په خبرو کې کارمل د نورو عسکر او وسلو غوښتنه وکړه، څو نور خلک هم ووژني؛ خو ګرباچف ورته وویل، داسې ښکاري چې ستاسې خلک تاسې نه غواړي او تاسې غواړۍ زموږ د عسکرو او وسلو په زور په خپلو خلکو کې حکومت وکړۍ. په زور حکومت کول امکان نه لري. ګرباچف دا نابغه برطرف او زموږ تر ټولو هوښیار او عقل کُل یې د امپراتوریو د قبرستان مشر وټاکه. نجیب یې رییس جمهور کړ او په ښکاره یې ورته وویل، چې موږ نور وځو، سوله وکړئ او مجاهدین په قدرت کې شریک کړئ.

د ښاغلي وزیري په خبرو کې تر ټولو جالبه کیسه د شهنواز تڼي د کودتاه کیسه وه. تڼی د نجیب د دفاع وزیر و، تڼي د کودتاه پلان درلود او نجیب هم ښه خبر و، چې تڼی کودتاه کوي؛ خو بیا هم دا نابغه ولسمشر چې نن یې هم ډېر احساساتي افغانان ملاتړ کوي، د کودتاه مخه نه نیسي او تر ټولو وحشتناکه خبره خو دا ده، چې کودتاه لومړی د نجیب لخوا شروع کېږي. په کودتاه کې هم د امریکا او روس لاس و، ځکه دوی غوښتل چې خلقیان چې تر مرګه جنګېدل، کمزوري کړي؛ ځکه امریکا خپل هدف ته رسېدلې وه او شوروي یې مات کړی و. نور خلقیانو او جنګ ته اړتیا نه وه. د ښاغلي وزیري په خبره، که نجیب ښه سیاستمدار وای، د اریانا په چوک به نه په دار کېده. له دې نابغه ګانو چې خبره خلاصه شوه، زموږ نورو فیلسوفانو بیا په پاکستان کې د افغانستان لپاره عبوري حکومت جوړ کړی و. دې د هوښیار زامنو تر اوسه هم خپل دښمن نه و پېژندلی او د دښمن په کور کې یې حکومت جوړ کړ. دا ډول ټوکې د دنیا په هیڅ کمیډي فلم کې نه شې موندلی. د مجاهدینو د حکومت لویه لاسته راوړنه دا وه چې هغه نیم ملک چې پاتې و، هغه یې هم ړنګ کړ. مجددي له لږ مقاومت وروسته حکومت رباني ته پرېښود او رباني د خپل ژوند تر ټولو هوښیار کار وکړ. هغه دا چې جنرال حمیدګل یې خپل ستر سلاکار وټاکه. کابل کې د مجاهدینو تر منځ جنګو زور واخیست، اویا زره کسان ووژل شول، ملک کنډواله شو او پاټکونو او داخلي جنګونو خلک په مرګ راضي کړل. خو نن دوی دا ټول قتلونه، وژنې، ورانۍ او دربدرۍ په خدای تاوانوي. دوی هیڅ هم نه دي کړي او هر څه د خدای له جانبه وو او دا ټول خلک خدای وژلي دي. مسعود، رباني، ګلبدین، سیاف، مزاري، محقق، خلیلي، مجددي، دوستم، اسماعیل خان، عطانور، حاجي قدیر، صالح او نور ټول سپین چرګان دي او ټول یې واجب احترام دي. خو صرف دومره توپیر و چې د امریکایانو په زور یې یو ملي قهرمان او بل د کابل قصاب شو. د دې ډلو ټپلو د طالبانو راتګ ته زمینه مساعده کړه، خلک په اول سر کې لږ ارام شول؛ خو وروسته خلک پوه شول چې په هدیره کې ژوند کوي. د دې سپینو چرګانو هم له عقله کار وانخیست او غوښتل یې چې سمرقند او بخارا ونیسي. ټول شیان یې حرام کړل او غوښتل یې چې خلک باید اصلي ژوند په اخرت کې وکړي؛ ځکه خو یې هیڅوک ژوند کولو ته نه پرېښودل. ملک یې د نړۍ د تروریستانو په مرکز بدل کړ او امریکا ته یې بهانه په لاس ورکړه، چې نور دا سپین چرګان حلال کړي. د چرګانو له حلالېدو وروسته امریکایانو بیا هماغه غله، لوټمار او قاچاقبر په سر د قدرت کړل؛ خو دا خلک نه ماړه او هم ساړه شول، غلا، لوټل، وژل او نفاق اچولو ته یې بیا هم زور ورکړ. تاریخ یې بیا تکرار کړ او بیا یې د سپینو چرګانو راتګ ته لاره هواره کړه. اوس یې پام شوی دی چې زموږ د لیونتوب د پای شېبې را نږدې شوې دي؛ ځکه امریکایان هم د روسانو په شان ستړي شوي دي او غواړي دا جګړه په هر ډول چې وي، ختمه کړي. زموږ اخري عقل کُل ښاغلی غني هم د هیچا خبرې ته غوږ نه نیسي، انتقاد ورته کفر ښکاري او غواړي داسې کسان یې مامورین وي، چې تل ورته سمعاً او طاعتاً ووایي. خو د افسوس خبره دا ده چې ملت له دومره وژنو، کړاوونو او رټلو سره سره هم هوښیار نه شو او نن هم غواړي چې هر څه په خدای تاوان کړي او له مسوولیت اخیستلو څخه ځان وساتي. خو خدای مو تر هغه حالت نه بدلوي څو چې مو ځان نه وي بدل کړی.

## رحماني: ولسمشر د علیپور د نیولو پر ځای اندرابي له دندې ګوښه کړ

د ولسي جرګې رییس وایي، علیپور په غیر قانوني کړنو بوخت دی، خو ولسمشر د هغه د تعقیب پر ځای د کورنیو چارو وزیر له دندې ګوښه کړ. د ولسي جرګې رییس میر رحمان رحماني د یادې جرګې د پرونۍ غونډې په امتیازي ساعت کې د خبرو پر مهال وویل چې ولسمشر غني د علیپور د غیر قانوني کړنو له امله د کورنیو چارو پخوانی وزیر مسعود اندرابي له دندې ګوښه کړی چې دا کړنه یې د منلو نه ده.

د ده په خبره، علیپور د سرور دانش په ضمانت خوشې شوی، خو اوس په غیر قانوني کړنو بوخت دی. علیپور د میدان وردګو په بهسودو ولسوالۍ کې ځایي خپلسری قومندان دی چې په وروستیو کې یې د افغان پوځ یوه چورلکه وېشتلې ده او د ګڼو افغان سرتېرو په وژلو تورن دی. افغان حکومت ویلي چې دغه غیر مسوول وسله وال به نیسي او د قانون منګولو ته به یې سپاري.



په ورته مهال د ولسي جرګې یو شمېر نورو غړو هم ویلي چې د میدان وردګو ولایت په بهسود ولسوالۍ کې فعال غیر مسوول وسله وال علي پور باید ونیول شي او ژر تر ژره د قانون منګولو ته وسپارل شي. په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازي شاه پور حسن زي ویلي چې هېڅ دولتي چارواکی ان ولسمشر غني لا د علیپور د بښلو حق نه لري؛ ځکه د ده په وینا، علیپور د ملي امنیتي ځواکونو قاتل دی، خیانت یې کړی دی او باید اعدام شي.

په ورته وخت کې د پکتیکا د خلکو استازي نادر خان کټوازي هم ویلي، چې علیپور یو قاتل او بدماش دی، حکومت ته په کار ده چې ویې نیسي او د قانون په رڼا کې چلن دې ورسره وکړي. بلخوا د علیپور ملاتړي مهدي راسخ بیا ولسمشر او حکومتي چارواکي ملامت بللي او زیاته کړې یې ده چې د ولسمشر غني وروستۍ ورځې دي، له همدې امله هڅه کوي خلک په خپلو کې سره واچوي.

# ځوک په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو پر جنګي جنایتونو پرده غوړوي؟

عبدالله لغماني

په ۲۰۱٦ کال کې د استرالیا د خاصو ځواکونو یوه پوځي کیون فراسټ په افغانستان کې د استرالیا له جنګي جرمونو څخه پرده پورته کړه او ویې ویل چې د رابرټس سمېت په نامه یوه استرالیایي پوځي په ۲۰۱۲ کال کې د ارزګان ولایت کې د یوه بندي وګړي لاسونه ورتړلي، له یوه لوړ پاڼ څخه یې ښکته غورځولی او په شکنجه کولو یې وژلی دی. په داسې حال کې چې همدې پوځي د ښو جنګي کارنامو په تر سره کولو سره د استرالیا تر ټولو لوړ جنګي مډال هم ګټلی و.

د کیون فراسټ دې ادعا شور او ځوږ جوړ کړ، خبري رسنیو ته راووتې او د ځواکونو د جنګي جرمونو د څېړلو په موخه استرالیا مجبوره شوه، چې په افغانستان کې د خپلو جرمونو د څېړلو په موخه څېړنې پیل کړي. څېړنې روانې وې او تر څلور کاله څېړلو وروسته په ۲۰۲۰ کال کې تحقیقات پای ته ورسېدل او پکې معلومه شوه چې ځینو استرالیایي سرتېرو په افغانستان کې جنګي جنایتونه تر سره کړي دي.

له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱٦ کال پورې تقریباً ۵۵ غیرقانوني وژنو کې استرالیایي ځواکونه ښکېل او د لسګونو نورو ځورونو او شکنجو کې یې لاس درلود، چې ځینې خلک یې په بوجیو کې اچولي او وژلي دي، د ځینو یې غاړه په چاړه ور پرې کړې او ان د ځینو معیوبو بندیانو په پلاستیکي پښو کې به یې شراب څښل او په نشې به یې پکې کولې.

په ځینو به یې نښې زده کولې او ځینې واړه ماشومان به یې په ډله ییز ډول په بې رحمانه ډول شکنجه کول او وژل.

ان ځینې وخت به یې د دې لپاره چې بندي، سرتېری له ځان سره نشي وړلی یا د دوی په چورلکه کې ځای نه و، د ځای د نشتون له امله به یې واژه او د ځینو مړو کسانو جسدونو ته به یې درناوی نه کاوه او په شنو پټیو کې به یې بې وسلې کروندګر وژل.

د اصولو له مخې چې کومې کړنې په دې راپورونو کې راغلې دي، جنګي جرم ثابتېدلی شي او د محکمو له حکم وروسته دا کسان تر سخت عدلي قوانینو لاندې راتللی شي. تورن باید محکمه شي او د قربانیانو پاتې کسانو ته باید ښه پوره خساره او تاوان ورکړل شي.

خو نن سبا یو ځل بیا دا پېښې د نړیوالو خبرونو سرټکي ګرځېدلې دي، خو په شعوري ډول داسې هڅه کېږي چې د دې جنایتونو د تر سره کوونکو د جنایتونو په تر سره کولو کې سهل انګاري وشي او په قصدي ډول داسې کارونه کېږي، چې دا پېښې سرسري تېرې شي او د خلکو پام ورته وانه وړي.

د دې سرغړونو او جنایتونو په پټولو او سرپوښ جوړولو کې د امریکا متحده ایالات تر ټولو مخکې دي. دوی نه غواړي چې د درېیمې نړۍ د وروسته پاتې هېواد د وژل شویو وګړو په وژنې په تور باندې یو مهم متحد او ستراتیژیک ملګری خپه کړي. امریکا او استرالیا د نړۍ په ډېرو برخو او په هر ډول نړیوالو معاملو کې تقریباً ورته او یو شان نظر لري او د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې یې ګټې په یوبل پورې تړلې دي، نو د داسې بې پوښتنې خلکو وژل چې دوی یې بیا وروسته په تور نشي نیول کېدای، مشکل نشي ورته جوړولی او تر دې مهمې او ګډو ګټو لپاره غواړي چې د لسګونو بې ګناه او بې دفاع انسانانو په وژنه سرپوښ واچوي او په یو ډول نه یو ډول د خلکو اذهان بلې خوا ته معطوف کړي.

دویم ورسره په دې کار کې افغان حکومت ملګری دی، افغان حکومت هم نه غواړي چې دا خبره پسې رالوځه یا لړترلړه پسې تعقیب کړي، ځکه نه غواړي د ځان پر وړاندې د خپلو خلکو غوسه لا پسې راوپاروي او په مقابل کې یې د امریکا او استرالیا په شان کلک متحد او ملګري خوابدي کړي. افغان دولت د دې لپاره چې د امریکا او استرالیا وفادار ملګری پاتې شي، په دې قتلونو اومرګونو باندې غواړي ډېر فوکس ونه کړي او هڅه کوي چې په دې اړه د نظر اظهار هم ونه کړي.

افغان حکومت چې لا له وړاندې په افغانستان کې د ناامنۍ، بې کارۍ، هدفي وژنو او نورو له امله د خلکو له خوابدګۍ سره مخ دی، نه غواړي خپل محبوبیت لا پسې په خپلو خلکو کې خراب کړي او لا ډېر متزلزل او د له منځه تللو حالت ته لاړ شي.

نو د عامو افغانانو دا غوښتنه ده چې عدالت تامین شي او عدالت د ټولو لپاره وي. باید په تېر شل کلن جریان کې ټول بهرني جنګیالي که د امریکا وي، یا په ناټو پورې اړه لري او یا د ائتلافي ځواکونو برخه وي او په افغانستان کې یې جنګي جنایتونه او سرغړونې کړې وي؛ باید د ټولنیز او نړیوال عدالت د پلي کېدو لپاره محکمه او په سزا ورسول شي. د ټولو بې طرفه او بې وسه افغانانو هیله ده چې ټول بهرني او کورني جنګي مجرمین باید د خپلو تېرو کړنو او جنایتونو سزا ووینې او د محکمې د پرېکړې په پایله کې چې په هر ډول سزا محکوم شي، باید په سزا ورسېږي.

# د سولې او اوربند فرصت؛

## امریکا: افغان جګړه یوازې د خبرو له لارې ختمېږي، روان بهیر هیله بښونکی دی



د افغان سولې په اړه له نوو هڅو سره هممهاله د امریکا د بهرنیو چارو وزیر نوې څرګندونې لرلې دي او خلیلزاد هم د سیمې هېوادونو ته په سفر بوخت دی. د مسکو تر ناستې وروسته ټاکل شوې، چې په ترکیه کې د افغان سولې په اړه غونډه وشي. زلمي خلیلزاد په همدې تړاو ترکیې ته سفر کړی و او د دغه هېواد له لوړپوړو چارواکو سره یې کتلي دي. بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر یو ځل بیا ټینګار کړی، چې افغان جګړه د خبرو له لارې ختمېدلی شي او امریکا ژمنه ده چې روانه جګړه د مذاکراتو پر مټ پای ته ورسوي.

په راتلونکو اونیو کې په ترکیه کې د افغان سولې په اړه برخلیک ټاکونکې غونډه جوړېږي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد ترکیې ته تللی او هلته یې له ترکي چارواکو سره پر راتلونکې کنفرانس خبرې کړې دي. د ترکي رسنیو د راپورونو له مخې، خلیلزاد له لوړپوړو ترکي چارواکو سره کتلي او ټینګار یې کړی چې د افغان سولې لپاره به هڅه کوي. ترکي چارواکو ویلي، چې د افغانستان د سولې له پروسې هر اړخیز ملاتړ کوي او هڅه کوي په راتلونکې کنفرانس کې لا ډېر افغانان سولې ته نږدې کړي. ترکي او امریکایي چارواکو ټینګار کړی و، چې د ترکیې کنفرانس د دوحې د بهیر بدیل نه دی، بلکې هڅه پکې دا ده چې د دوحې بین الافغاني مذاکرات د ترکیې د کنفرانس پر مټ چټک کړي.

بلخوا تازه د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان د سولې په اړه څرګندونې لرلې دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلېنکن خبریالانو ته ویلي، چې امریکا په افغانستان کې د سولې له پروسې ملاتړ کوي او په دې باور ده چې دلته روانه جګړه یوازې او یوازې د خبرو له لارې پای ته رسېږي. د ده په خبره: «دا مهمه وه چې ډیپلوماسي د خبرو اترو په بهیر کې چټکه کړل شي. په دې ټول پوهېږي چې په افغانستان کې د جګړې له لارې بریا نشته ده».

انتوني بلېنکن د سرتېرو د حضور په اړه هم خبرې کړې دي. نوموړي ویلي، چې دوی له ناټو سره یو ځای افغانستان ته تللي او له خپلو دې متحدینو سره به یو ځای له افغانستان وځي. بلېنکن بیا هم ټینګار کړی، چې د سرتېرو د ایستلو یا حضور په اړه وروستۍ پرېکړه له جو بایډن سره ده. د ده په خبره: «موږ په ګډه هلته تللي یو. په بېلو شرایطو کې موږ هلته وو، خو د مناسب وخت په راتګ سره به په ګډه له دغه هېواد وځو».

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر تر څرګندونو وړاندې د امریکا ولسمشر جو بایډن هم ویلي وو، چې تر مې میاشتې پورې به له افغانستان د سرتېرو ایستل ګران کار وي. د بایډن دې څرګندونو له ځان سره د طالبانو غبرګون هم درلود. دوی وویل چې بهرني ځواکونه باید له هوکړې سره سم تر مې میاشتې پورې له افغانستان ووځي، خو که پر ژمنو عمل ونه کړي، نو طالبان به خپلو وسله والو مبارزو ته ادامه ورکړي.

بلخوا په افغان حکومت کې د ملي مصالحې عالي شورا هیله لري چې د ترکیې غونډه په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو سبب شي. نوموړي په خپله وروستۍ مرکه کې تمه ښودلې، چې د ترکیې په کنفرانس کې له طالبانو سره پر اوربند توافق رامنځ ته شي. هغه همدا راز ویلي چې په دغه غونډه کې به یې پلاوی په پوره قوت ګډون کوي او تر ټولو مهم هدف به هم دا وي چې روانه جګړه ختمه شي او ښکېلې خواوې پر اوربند سره سلا شي. د ده په خبره: «تر اوږدې مودې وروسته به د ترکیې ناسته یو غوره فرصت وي. زموږ پلاوی به په پوره قوت هلته ګډون کوي. هڅه مو دا ده چې دا بهیر یوې پایلې ته ورسېږي. دا زموږ لپاره د پرمختګ یو مهم ګام دی».

بلخوا په افغانستان کې سیاسي او مدني فعالین هم په دې باور دي چې د سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت دې د طالبانو او افغان حکومت له لوري نه ضایع کېږي او دواړه اړخونه دې ژر تر ژره پر اوربند او د جګړو پر پای ته رسولو سره سلا شي.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر نږدې ۱۲۸ میلیونو کسانو ته ورسېد

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۲۷ میلیونه او ۹۰۷ زره او ۸۵۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۷۹۸ زره او ۱۳۳ کسان مړه شوي او له ۱۰۳ میلیونو ډېر تړي بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۰ میلیونه او ۹٦۸ زره او ۸۷ ته رسېدلې او ۵٦۲ زره او ۵٦۳ نور امریکایان تړې مړه شوي دي.

دغه راز برازیل د ۱۲ میلیونه او ۵۳۴ زره او ٦۸۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۲ میلیونه او ۴۵ زره او ۲۸۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د څلور میلیونه او ۵۴۵ زره او ۵۸۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۵۲۸ زره او ۵۴۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېټانیا، ایټالیا، هسپانیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا په انګلستان کې د کرونا ویروس له کبله د لګول شویو بندیزونو د کمولو د دویم پړاو عملي کول پیل شول.

د برېټانیا لومړي وزیر بورېس جانسون بیا هم له خلکو د احتیاط غوښتنه کړې او ویلي یې دي چې د اروپا په نورو برخو کې د دغه ویروس د مثبتو پېښو زیاتوالی او د ویروس نوې بڼه لا هم یو ګواښ ګڼل کېږي.




په انګلستان کې پر کور د پاتې کېدو امر په داسې حال کې نرمېږي، چې بهر تر شپږو کسانو او په کورونو کې دننه تر دوو زیات کسان نهشي سره یوځای کېدای. دا تازه مقررات به د سپورټ اماتور ټیمونو ته زمینه برابره کړي، چې د تېنس، ګولف او په بهر کې د لامبو وهلو فعالیتونه بېرته پیل کړي. په برېټانیا کې د هغو بالغو کسانو شمېر څه باندې ۳۰ میلیونو ته ورسېد، چې د کرونا ویروس لومړی ډوز واکسین یې ترلاسه کړی دی.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړۍ برخه
### د زيمنې برابرول




سېنها: که د پټان‌کوټ غوندې بله مسئله رامنځته شوه، څنگه به اداره کېږي او پايلې به يې څه وي؟

دولت: د پټان‌کوټ، گورداسپور، اوړي او اخنور په څېر ډېرې پېښې څو ځله شوې دي. او که په راتلونکي کې همداسې څه پېښېږي او وايې، چې غبرگون به مو څه وي، دومره درته ويلی شم چې موږ به نورې جراحي حملې وکړو. رسنۍ ډېرې ستونزې راته جوړوي، ځکه چې هره کوچنۍ مسئله ډېره لويه ښيي.

دوراني: رسنۍ د سولې دښمنانې دي. که سوله راغله، د رسنيو کسان به بې دندو شي او رسنۍ به بندې شي. ډېری هغه کسان به چې په رسنيو کې بغارې وهي هېڅوک دويم ځل ونه ويني.

دولت: که کشمير ته په ځانگړې توگه پولې ته تللی يې، هلته ډېر داسې څه پېښېږي، چې هېڅ رسنۍ يې په اړه څه نه وايي. ډېر بې‌گناه ملکيان وژل شوي دي او يا يې د بدن غړي پرې شوي دي. زموږ له بې عاطفۍ د پولې په دواړو غاړو کې ډېر خلک کړېږي. دا کارونه به دوام لري.

لکه څرنگه چې جنرال صېب په افغانستان کې د امريکايانو په اړه وويل چې د ساعتېرۍ لپاره خپلو ملگرو ته وايي چې راځئ هلکانو د باندې ووځو او پر خلکو ډزې وکړو. زموږ پر پوله هم ډېری وختونه ډزې بې سببه وي او دواړه خواوې يې پړه پر دا بله خوا وراچوي.

دوراني: موږ ليدلي، چې د پارلمان او ممبيي له بريدونو وروسته هند تياری نيوه او دا مو هم وليدل چې هنديانو دا پرېکړه کړې وه، چې همدې بريدونو ته ورته ځوابي بريدونه وکړي. که د مودي په حکومت کې بله دې ته ورته لويه پېښه وشوه، هماغې پېښې ته ورته ځوابي بريد به وکړي، ځکه بله لار نه لري.

زه نه پوهېږم چې له پټان‌کوټ وروسته ولې تاوتريخجن غبرگونونه نه وو. ښايي دليل به يې دا وي چې له ۲۰۰۲ کال څخه مو څه زده‌کړي و، ښايي دليل به يې نواز شريف و او يا ښايي بل دليل به يې درلود. خو د اوړي له پېښې وروسته جراحي حمله اعلان شوه او خلکو وستايله، له همدې کبله زه وايم چې له ځوابي بريد پرته بله لار نشته. بل بريد ښايي فشار نور هم ډېر کړي. که د جراحي حملې موخه دا وه، چې د نورو پېښو مخه ونيسي، خو که بله پېښه وشي، نو څه به کوئ؟

يا به سوړ غبرگون وښاياست او يا به وواياست چې مجبور يوو يو څه وکړو. داسې غبرگونونه په هر ډول حالاتو کې وي، خو کله کله مو باندنۍ قوه مجبوروي چې يو څه وکړئ. نو دی په سمه دی، موږ وړاندوينه نشو کولای.

په دې کې شک نشته، چې په اړيکو او غبرگونونو کې بدلون رابدلون په دې پورې اړه لري، چې لومړی وزير څوک دی. د حالاتو په بدلون غوسه بدلېږي يا سړېږي يا تېزېږي. د واجپای حکومت سم و.

دولت: جنرال صېب سم وايي، چې د واجپای او منموهن سېنگ تر حکومتونو دغه حکومت ته د ځان ساتل ډېر ستونزمن دي، ځکه چې دغه حکومت توند حکومت دی او همدارنگه جدي هم دی.

زه د گورداسپور، پټان‌کوټ او اخنور په اړه په تشويش کې نه يم، خو که د ممبيي غوندې بله پېښه وشوه، خدای دې نه‌کړي، نو څه به کېږي؟ د هند حکومت ته به د ځان کابو کول ډېر سخت وي. ډاډه يم چې په دې اړه به يې فکر هم کړی وي.

هر کله چې داسې څه شوي دي، امريکايانو او نورو ځان را رسولی او د مرستې وړانديز يې راکړی دی. د داسې پېښو د اداره کولو نورې لارې هم شته. د واجپای په حکومت کې تحميلي ډيپلوماسي وه. خو کله چې کوم حکومت له همداسې پېښې سره مخامخ شي، خلک يې ترې غواړي چې ژر تر ژره غچ واخلي.

دوراني: زه وېره نه خپروم، خو ځينې دولتونه او نورې ډلې هم په پام کې ونيسه، چې په ثبات او ارامۍ کې يې گټه نشته او بې ثباتي جوړوي.

دولت: حقيقت دی. د نظر خاوندان هم همدا وايي. موږ وايو چې موږ ته ترهگرۍ را صادرېږي، موږ په ترهگرۍ کې سوځېږو، دا حقيقت دی. بېچاره کشميريان هم په پام کې ونيسه. تاسو پوښتنه وکړه، چې ولې د ۲۰۱۷ کال اوړی تر مخکنيو کلونو ارام و. کله کله له همدې دولتونو او نورو ډلو سره چې جنرال صېب ياد کړل، هم دا احساس پيدا کېږي چې کشميريان هم تفريح ته اړتيا لري.

**دوام لري...**

# توني موريسون

شفيق اميرزی



توني موريسون افريقايي الاصله امريکايي ليکواله ده. هغه د امريکايي ادب په تېره د تورپوستانو د ادبياتو او ادبي نړۍ د اسمان ستوری ده. هغه د نوبل جايزه وگټله، خو په ادبي نړۍ کې يې دومره لوی نوم گټلی چې تر ننه د هر امريکايي په تېره هر تورپوستي نړيوال پر ژبه يې نوم دی. د هغه پنځونې د نړۍ په گوټ گوټ کې مشهورې دي او ډېرو ژبو ته ژباړل شوې دي. هغه تورپوستې مېرمن وه چې د نوبل تر جايزې ورسېده، خو په دې توگه د نوبل لومړنۍ تورپوستې گټونکې هم بلل شوې ده. موريسون ادبيات پنځول، ادبيات يې تدريسول او په ادبي برخه کې يې د زړه له تله فعاليتونه تر سره کول. هغې به ويل، له تخيل پرته نور هېڅ نه لري، له طنز يې ښه درک درلود او کلماتو ته يې له حده ډېر باور درلود.

کلوئيه انتوني ووفورډ د ۱۹۳۱ کال د فبرورۍ په ۱۸مه د امريکا د اوهايو ايالت په لورين ښار کې زيږېدلې ده. د نوموړې کورنۍ کاريگره گڼل کېده او څلور غړي يې لرل. دوی افريقايي الاصله تورپوستان وو، نيکه يې په يوه غلامه کورنۍ کې زيږېدلی و. ياني هغه مهال وزيږېد چې لا هم په امريکا کې د غلامۍ دود نه و ختم شوی. ووفورډ وروسته وروسته د توني نوم ځان ته غوره کړ. توني په داسې يوه کورنۍ کې وزيږېده چې شاوخوا يې ټوله بېوزلي وه. په څو فرهنگه چاپېريال کې را لويه شوه. په دې مانا چې شاوخوا يې ډېر ملتونه اوډېر نژادونه وو. په همدې چاپېريال کې ډېر ژر له ادبياتو سره بلده شه. له ناولونو په تېره د جين آستين او تولستوی له ناولونو سره يې د زړه تارونه وصل شول. په ۱۹۴۹ کال کې د ډيپلوم تر اخيستو وروسته هارورډ پوهنتون ته بريالۍ شوه او په دې پوهنتون کې يې د ادبياتو زده کړې ته مخه کړه. نوموړې وايي چې تر دې دمه هېڅ وخت پر نژادي توپير نه وه پوه، خو دلته يې چې کله زده کړې په تور هارورډ يا د تورپوستانو لپاره د هارورډ پوهنتون د ځانگړې شوې ځانگې محصله شوه، نو په نژادي توپير يې هم سر خلاص شو او دې ته متوجه شوه چې په امريکا کې د تورپوستو پر وړاندې وضعيت څومره خراب دی.

موريسون د تدريس چارې په تگزاس پوهنتون کې پيل کړې. وروسته هارورډ پوهنتون ته لاړه. هلته يې هم د ادبياتو په تدريس پيل وکړ. موريسون په ۱۹۵۸ کال کې د هارورډ پوهنتون له يوه محصل سره واده وکړ. خو شپږ کاله وروسته يې له دې ځوان طالق واخيست. هغه مهال يې دوه اولاده لرل. تر بېلتون وروسته يې په نيويارک کې له رانډوم هوس انتشاراتو سره کار پيل کړ. موريسون په دې انتشاراتو کې د تورپوستو د ادبي برخې مسووله وه. هغه مهال چې توني په دې انتشاراتو کې مسووله وه، نو مهم کارونه يې وکړل. د لومړي ځل لپاره د تورپوستي محمد علي کلي ژوندليک چاپ شو. د تورپوستو ليکوالانو د پنځونو گلچين يې چاپ کړ او د ځينو تورپوستو ليکوالانو په هڅونه کې يې هم مهم رول درلود.

سره له دې چې دلته يې په انتشاراتو کې دنده درلوده، نو تر څنگ يې د نيويارک ښار په ايالتي پوهنتون کې هم د تدريس دنده لرله، ان تر دې چې د لومړنۍ تورپوستې مېرمنې په توگه په دې وتوانېده چې په پرنسټون پوهنتون کې يوه څوکۍ خپله کړي. موريسون په دې ډول نو لومړنۍ تورپوستې مېرمن وه چې په پرنسټون پوهنتون کې ځان ته ځانگړې څوکۍ لري. نوموړې بريالۍ شوه چې تر ۲۰۰۶ کال پورې دا څوکۍ وساتي.

توني موريسون په پوهنتون کې د تدريس د دندې تر څنگ، ادبي نقاده وه او ډېرې مقالې يې خپرې کړې دي. هغې نه يوازې دا چې ناولونه او کيسې ليکلې، بلکې ننداري يې هم ليکلې دي. په ۱۹۸۶ کال کې يې د (Dreaming Emmett) په نامه يوه ننداره وليکله او هغه يې ننداري ته وړاندې کړه. دا ننداره د امت تېل په نامه د يوه ځوانکي پر ژوند ليکل شوې وه. دا تورپوستی ځوان و، چې په مي سي سي پي کې په ۱۹۵۵ کال کې وژل شوی و. دا د تورپوستو په مبارزه کې د يوه سمبول په توگه مطرح شوی و او د دې سبب شو چې د تورپوستو مبارزې نوی رنگ راوړي او لا ډېر خلک د دوی له غوښتنو ملاتړ وکړي.

توني موريسون د خپل ادبي ژوند په جريان کې ټولټال يوولس ناولونه خپاره کړي دي. په دې ناولونو کې تر ډېره په پرله‌پسې توگه د امريکا معاصر تاريخ په ځان کې رانغاړي. دا ناولونه ټولې هغه مبارزې انځوروي چې تورپوستانو د خپلو بشري حقونو د تر لاسه کولو لپاره تر سره کړې او ننۍ امريکايي ټولنه ترې جوړه شوې ده. لومړنی ناول يې تر ټولو آبي سترگې يا (The Bluest eye) و. دا ناول يې په ۱۹۷۰ کال کې خپور کړ او په دې وخت کې موريسون ۳۹ کاله عمر درلود. دا ناول هم د تورپوستو د حقوقو د تر لاسه کولو لپاره ليکل شوی و. هڅه يې دا وه چې دغه ټبر د خپلو حقونو د اخيستلو لپاره وهڅول شي او وکړای شي ځانونه پياوړي وساتي.

په ۱۹۷۷ کال کې موريسون د سليمان د غږ په نامه ناول خپور کړ. دې ناول د امريکايي نقادانو د ملي حلقې جايزه هم وگټله. موريسون په دې کتاب کې د يوه تورپوستي کيسه را اخلي چې د خپل هويت د پيدا کولو لپاره هلې ځلې کوي. دی هڅه کوي چې د خپلو نيکونو اصلي ريښې پيدا کړي چې څوک وو او ولې غلامان کړل شوي وو. نوموړې په دې کتاب کې لوستونکی د تورپوستو د نړۍ له فولکلور، کوډو او باورونو سره بلدوي. په ۱۹۸۲ کال کې د قير هلک، ياني ډېر تور هلک ناول خپروي. په ۱۹۸۷ کال کې د دلبند ناول خپروي، په دې کتاب کې هم د بشري حقونو او تورپوستو د حقونو لپاره مبارزه شوې ده او څو اړخيز ناول گڼل کېږي. همدا ناول و چې توني موريسون يې په نړۍ کې د يوې ليکوالې په توگه مطرح کړه. په دې مانا چې توني موريسون ته د ليکوالۍ شهرت همدې ناول گټلی دی.

ډېر کم داسې ليکوال پيدا کېږي چې د توني موريسون په څېر په يوه ځانگړې سبک دومره چټکه وده وکړی شي. مخکې مو هم وويل چې د موريسون لومړنی اثر (The Bluest eye) و، چې په ۳۹ کلنۍ کې يې خپور کړی و. د همدې اثر تر خپرولو دوې لسيزې وروسته په ۱۹۹۳ کال کې موريسون د نوبل گټونکې شوه. موريسون چې کله د نوبل جايزه اخيسته، د خپلو خبرو په يوه برخه کې يې وويل، د کيسې او ناول ليکل ورته يوازې تفريح نه ده، بلکې باور لري چې ناول او کيسه د زده کړو د تر لاسه کولو او ځان پوهولو تر ټولو اغېزناکه لار ده. نوموړې د امريکا د څو اړخيز فرهنگ په معرفي کې مهم رول ادا کړی دی. نوموړې په داسې يوه وخت کې ليکل کول، چې امريکايي حکومت د ولسواکۍ چيغې وهلې، خو هلته يو ستر ټبر د پوست د رنگ له امله د ولسواکۍ له ټولو حقوقو محروم و. نوموړې د هغو کسانو غږ اوچت کړ، چې ازادي ترې اخيستل شوې وه. هغې په امريکايي ټولنه کې د سانسور فرهنگ ختم کړ او په دې تراو جوړ شوي مرزونه يې مات کړل.

نيويارک ټايمز ورځپاڼې په يوه مطلب کې ويلي، موريسون له هغو گوتو په شمار ليکوالانو ده چې کتابونو يې تر چاپ وروسته ښه پلور درلود او په دې برخه کې بريالۍ وه. کيسې او کتابونه يې تل د ډېرو پلورېدونکو کتابونو په کتار کې راتلل. ځينې کتابونه يې په فلمونو بدل شوي دي. پخپله يې هم له رسنيو سره ښې اړيکې لرلې، په مهمو بحثونو او ادبي فعاليتونو کې يې برخه اخيسته. په ځلونو په مهمو او په زړه پورې خپرونو کې راڅرگنده شوې ده. د نوبل اکاډمۍ هم هغه مهال وويل چې موريسون په خپلو اثارو کې ښه ليدلوری لري. موريسون په دې توگه د امريکا يوې بنسټيزې څېرې او اړخ ته ژوند وربښلی دی. موريسون په ۱۹۹۲ کال کې ياني يو کال مخکې تر دې چې د نوبل جايزه وگټي، د جاز په نامه يو ناول خپور کړ. دا په دلبند ناول پورې اړوند دويم ناول گڼل کېږي او نقادان په دې باور دي چې په اصل کې د دلبند ناول کيسه په دريو ناولونو کې واضح شوې ده، چې له يو بل سره اړيکه لري. جاز تاريخي ناول دی. پېښه يې د نيويارک په هارلم سيمه کې رامنځ ته شوې ده. دا ناول هم د نورو په څېر په امريکا کې د افريقايي الاصله تورپوستو ستونزې او جنجالونه منعکسوي. څو کاله وروسته د جنت ناول خپروي، چې دا د دلبند ناول درېيمه برخه يا تکميلوونکې برخه جوړوي.

نوموړې تل د تورپوستو له حقونو دفاع کوله، تل به يې خپل ټبر په سمه باله، خو يو وخت يې پخپله د تورپوستو نيمگړتياوو ته هم پام شو. په ۲۰۰۳ کال کې يې د عشق په نامه يو ناول چاپ کړ. نوموړې په دې اثر کې د تورپوستو ترمنځ نفاق، ناندريو او ناروااو ته کتنه کړې ده او دوی يې غندلي دي. په يوه بښنه ناول کې يې هم هغه ستونزې رابرسېره کړې دي، چې په اوولسمه پېړۍ کې د اروپايانو له لوري د نوموړې پر هم‌ټبره وگړو تر سره شوې دي. کور يې بيا لسم ناول دی چې په ۲۰۱۲ کال کې يې خپور کړی دی. دا د يوه سرتېري کيسه ده چې له کوريا سره د جگړې لپاره له امريکا تللی دی، خو د خپلې خور د ژغورلو لپاره له جگړې راگرځي او په دې لړ کې چې هغه له کومو ستونزو او جنجالونو سره مخ کېږي، په همدې ناول کې يې په اړه خبرې شوې دي.

د امريکا په ادبي تاريخ کې دغه ځلانده څېره بالاخره د ۲۰۱۹ کال د اگسټ په پنځمه له دې نړۍ لاړه. نوموړې په ۱۹۹۳ کال کې د نوبل جايزه وگټله او په دې توگه هغه لومړنۍ تورپوستې وه چې د نوبل جايزه گټي. د نوبل بنسټ هغه يوه پياوړې ليکواله بللې وه او ويلي يې وو چې هغې په امريکا کې له پامه لوېدلو بوړنوونکو پېښو ته نوې روح ورکړې ده. هغه د مرگ پر مهال اته اتيا کلنه وه. د نوموړې مرگ هم د نژادپاله نظرياتو ښکار شو. مرگ يې سياسي شو او په امريکا کې د ناندريو سبب شو. خو په ټوله کې د امريکا روشنفکره قشر په دې باور و، چې هغه يوه ستره ضايعه وه، په تېره بيا د تورپوستو امريکايانو لپاره د هغه مړينه نه جبرانېدونکې بلل شوې وه. د هغه وخت ولسمشر بارک اوباما په يوه پيغام کې وويل، چې نوموړې يوه ملي شتمني او يوه جادوگره کيسه ويونکې وه. اوباما نوموړې ته په ۲۰۱۲ کال کې په سپينه ماڼۍ کې د ازادۍ جايزه هم ورکړې وه، چې د امريکايي حکومت معتبره جايزه گڼل کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳۵ |
| € | ۹۱,۱ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# څنګه کولای شی یو ښه همکار و اوسئ؟

ژباړه: امان الله حنیفي

دا چې یو ښه همکار ولرئ، باید یو ښه همکار و اوسئ. د دې لپاره چې یو ښه همکار و اوسئ؛ باید:

**۱ـ د همکار برنامې ته مو له خپلې هغې ترجیح ورکړئ**

له خپلو همکارانو سره مو شریکې نقطې پیدا کړئ او د هغوی برنامو ته تر خپلو هغو په وخت داسې چې تاسې خپل کارونه مدیریت کولای شی، ترجیح ورکړئ.

**۲ـ هره ورځ مو د همکارانو ارزښت لوړ کړئ**

نورو ته ارزښت ورکول هغه یوازینۍ لار ده چې په یوه همکاریزه اړیکه کې ښه پایله ورکولای شي. همکاریزه اړیکه د هرڅه تر غوښتلو او تر لاسه کولو د مخه دوه لوري له پاشل کېدو ژغوري. چینایان یو متل کوي: «یو کس کولای شي د کم وخت لپاره رهبر و اوسي، خو له نورو سره د مرستې کولو په مټ بیا کولای شي د ډېر وخت لپاره رهبر و اوسي.»

که غواړې چې په کاري چاپېریال کې یو ښه همکار و اوسی، نورو همکارانو ته مو په پوره مانا ارزښت ولرئ.

**۳ـ همکارانو ته مو د اعتبار، ایډیاوو او ابزارو منبع په لاس ورکړئ**

زما د ژوند تر ټولو ښې شیبې هغه دي چې نورو ته د هغوی د پرمختګ منابع په لاس ورکوم. زه د رهبرۍ په اړه د تدریس په لومړیو کې پوه شوم چې یوازې زده کړې کافي نه دي. که خلکو ته د زده کړو تر څنګ مناسب منابع هم په لاس ورکړم، هغوی به د رهبرۍ تر ټولو ښې سطحې ته ورسېږي. په همدې دلیل غواړم له هغوی سره دا درې منابع شریک کړم:

**الف- باور: داسې څوک پېژنم چې ښه ده هغوی یې هم وپېژني؟**

زه له ښو خلکو سره له د معرفي کېدو او پېژندو ډېره ښه استفاده کوم. تاسې داسې څوک پېژنی چې ښه ده همکار مو یې هم وپېژني؟ څنګه کولای شی دوه هغه کسان چې هېڅ ممکنه نه ده مخامخ سره ووینی، له یو بل سره په اړیکه کې کړی؟ دا د نورو ارزښت لوړولو لپاره تر ټولو ښه لاره ده.

**ب- ایډیاوې: زه پر کومو ځیزونو پوهېږم چې هغوی هم باید پوه شي؟**

کن بلاپخادر وایي: «نورو زموږ لپاره تر ټولو ښه فکرونه کړي دي.» دا جمله زما په حق کې هم صدق کوي. څنګه کولای شی د خپلو ایډیاوو په شریکولو سره له نورو سره مرسته وکړی؟ کوم څه هغوی ته ورکولای شی چې هغوی یې په خپله ځان ته نه شي برابرولی؟ هرکله چې خپله ایډیا له نورو سره شریکوی، یوځه له تاسې کمېږي، خو د همکار د ارزښت کچه مو تر ډېره حده لوړېږي.

**ج- ابزارونه: زه له څه استفاده کوم چې هغوی هم وکولای شي له هغه استفاده وکړي؟**

ابزارونه هغه لارې چارې دي چې موږ تر بریا رسوي. زه باوري یم چې په ځانګړو لارو عمل کول مطلوبو پایلو ته د رسېدو تر ټولو ښه لاره ده او باوري یم چې همدا تر ټولو ښې لارې چارې دي. تاسې داسې کومې ځانګړې لارې چارې پېژنی چې همکار مو د هغه په وهلو سره نور هم پیاوړی شي؟

**۴- له همکار سره مو د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړئ**

د یو رهبر په حیث زما لومړی مسوولیت دا دی چې تاسې، ستاسې سازمان او ستاسې اړتیاوې وپېژنم او پوه شم چې څنګه کولای شم ستاسې ارزښت لوړ کړم. څنګه دا کار کولای شم؟ په پوښتنې کولو سره. پوښتنه کول تر ټولو ښه اړیکه ټینګوونکې لاره ده. د فرضیو پر اساس رهبري بې اغېزې ده.

ایا د خپل همکار د اړتیاوو پوره کولو په خاطر له هغه سره همکاري کوی؟ که داسې نه وي، ډېر وخت به ونه شی کولای چې خپلې همکارۍ ته دوام ورکړی.

**۵- هېڅ وخت مو باور له لاسه مه ورکوئ**

باور د هرې تلپاتې اړیکې اساس دی. باور یو په یو نه رامنځ ته کېږي، بلکې د هغه د تر لاسه کولو لپاره باید ډېر وخت مصرف کړئ. کله چې باور رامنځ ته شي، هغه وخت به مو د همکارۍ له اړیکې ډېره ګټه تر لاسه کړی.

**٦- د هر کار د تر سره کولو پر مهال تر هغه چې له تاسې یې تمه کېږي، ښه و اوسئ**

کله مې چې کار شروع کړ، هېچا له ما ډېره تمه نه درلوده. نو پر دې اساس، خپله مې د خپل ځان لپاره لویې تمې پلان کړې او د هغه د تر لاسه کولو لپاره مې ډېره هڅه وکړه. هرځومره مې چې د پرمختګ او اصلاح پر مسیر مخکې ګامونه اخیستل، پر خپلو تمو مې تمرین هم هومره ورسره لوړ شو او کله مې چې هغه کار تر سره کړ، ډېره ښه پایله یې تر لاسه کړه.


٧- اړیکو ته مو احترام ولرئ او په دې برخه کې پرمختګ وکړئ

ډېری وخت خلک یو مشارکت او همکاري رامنځ ته کوي او له لږ وخت وروسته هغه له پامه غورځوي. کله چې دا ډول پېښه رامنځ ته شي، همکاري خرابېږي او یو ډول بې باوري ځای نیسي. دا بې باوري د بېلوالي پیل دی، په همدې دلیل زه هر وخت هڅه کوم چې د همکار او د هغه د همکارۍ احترام وکړم او د نورو احترام خپلولو لپاره ډېره هڅه کوم. د نن ورځې همکاري د هغه احترام په واسطه چې تاسې پرون تر لاسه کړی و، ادامه نه شي پیدا کولی، دا احترام باید پرله‌پسې زیات شي. له ځانه وپوښتئ: «کوم کار تر سره کولای شم څو په پرله‌پسې ډول احترام خپل کړم؟»

- مخکې له دې چې اړ شم، باید توجه وکړم
- مخکې له دې چې اړ شم، باید خدمت وکړم
- مخکې له دې چې اړ شم، باید کار وکړم
- مخکې له دې چې اړ شم، باید تولید وکړم
- مخکې له دې چې اړ شم، باید پرمختګ وکړم

کله چې دا کارونه تر سره کوم، نه یوازې دا چې ښه والی احساس کوم، بلکې د نورو احترام هم خپلوم. ایا تاسې خپلو همکارانو ته احترام لرئ؟ ایا د خپل احترام تر لاسه کولو لپاره ډېرې هڅې کوئ؟ هغه کسان چې له تاسې سره کار کوي، بې اهمیته یې مه بولئ او د هغوی کارونو ته په ارزښت قایل شئ. هاوارد شولتز وایي، هغه بریا چې د یو کس له هڅې نه، بلکې د څو کسانو له ګډې همکارۍ لاس ته راغلې وي، ډېره مانا لرونکې ده.

## د بشري حقونو کمېسیون: د جګړې ښکېلې غاړې د ملکیانو خوندیتوب ته پاملرنه نه کوي



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په هېواد کې په جګړه کې ښکېلې خواوې د بشري حقونو له نړیوالو اصولو نه په سرغړونو تورنې کړې دي. د دغه کمېسیون په باور، د جګړې قوانین، په تېره د ملکیانو او ښځو خوندیتوب نه رعایت کېږي او ښځې او ماشومان د رواني جګړې اصلي قربانیان ګڼي.

د یاد کمېسیون د رسمي شمېرو له مخې، په تېر یوه کال کې ۸۴۷ ښځې او ۲۰۱۹ ماشومان د جګړو قرباني شوي دي. د یاد کمېسیون ویاند ذبیح‌الله فرهنګ له حکومت او طالبانو وغوښتل چې د ښځو او ماشومانو د قرباني کېدو د مخنیوي لپاره ژر تر ژره اوربند وکړي.

نوموړی زیاتوي: «د روان تاوتریخوالي او جګړې اصلي قربانیان ښځې، ماشومان، ځوانان او هغه کسان دي، چې په جګړه کې ښکېل نه دي. دوی په هوایي بریدونو، ماین چاودنو او جګړو کې وژل کېږي او ټپیان کېږي. له همدې امله په جګړه کې له ښکېلو خواوو غواړو چې د ملکیانو د قرباني کېدو د مخنیوي لپاره سمدستي اوربند وکړي.»

دا په داسې حال کې ده، چې ورمه ورځ په کندهار ولایت کې په یوه وسله‌وال برید کې د دغه ولایت د پولیسو د ۱۱مې حوزې د جنايي امر امېندواره ښځه ووژل شوه. دغه برید هغه مهال وشو، چې د ۱۱مې حوزې جنايي امر خپله مېرمن د زېږون لپاره روغتون ته لېږدوله. په دغه حمله کې د پولیسو امر او د مور په نس ماشوم ټپیان شوي دي. بلخوا د شنبې په ورځ د خوست ولایت د صبریو ولسوالۍ اوسېدونکو او طالبانو، امنیتي ځواکونه د ښځو او ماشومانو په ګډون د دغه ولسوالۍ د ۲۰ کسانو په وژلو تورن کړل، خو دغه ادعا امنیتي ځواکونو رد کړه.

په ورته مهال کورنیو چارو وزارت ټینګار کوي، چې د جګړې د اصولو رعایت او د ملکیانو خوندیتوب د دوی په لومړیتوب کې دي. د دغه وزارت ویاند طارق ارین وایي: «په ځینو مواردو کې دښمن د غیر نظامیانو د هستوګنې له کورونو نه د حملو لپاره استفاده کوي، موږ یې منو چې په غیر عمدي توګه غیر نظامیاو ته زیان رسېدلی، خو په ټوله کې د جنګ د اصولو رعایت زموږ لومړیتوب دی.»

د طالبانو ویاند ذبیح‌الله مجاهد د ملکیانو په وژنه کې د دوی لاس لرل رد کړي او حکومت یې له بشري حقونو په سرغړونې تورن کړی دی.

## سرچینې: د افغان سولې په تړاو په ترکیه کې جوړېدونکې غونډه ځنډلې



سرچینې وایي چې د طالبانو په وړاندیز د افغان سولې په تړاو په ترکیه کې جوړېدونکې غونډه ځنډلې ده.

ټاکل شوې وه چې دا غونډه د اپرېل په ۱۵مه د افغان حکومت او طالبانو تر څنګ، د یوشمېر هېوادونو د استازو په ګډون جوړه شي. اوس ځینې سرچینې وایي چې دا غونډه له روژې میاشتې وروسته شوې ده. پخوانی طالب چارواکی سیداکبراغا وایي، د امریکایانو په غوښتنه په مسکو کې د افغان سولې په تړاو جوړېدونکې غونډه کې طالبانو ته وخت ور نه کړل شو چې خبرې وکړي او په وینا یې، ښایي د ترکیې په غونډه کې هم ورته چلن ورسره وشي.

هغه د ترکیې غونډې د ځنډولو بل لامل په یاده غونډه کې د مشارکتي حکومت یادونه بولي، چې په خبره یې، ښې پایلې به ونه لري او ملامتي به یې د طالبانو پر غاړه وي.

په همدې حال کې یو بل پخوانی طالب چارواکی مولوی قلم‌الدین هم باور لري چې وضعیت ته په کتو، ښایي د ترکیې د سولې غونډه وځنډول شي. نوموړی په ټولو لوریو کې تخنیکي ستونزې، دواړو خواوو ته د اجماع نه موجودیت او د امریکایي ځواکونو د وتلو موضوع نه روښانتیا د یادې غونډې د ځنډېدو لاملونه بولي.

قلم‌الدین زیاتوي، که ملګري ملتونه او امریکا پر دواړو لوریو فشار راوړي او شته ستونزې هوارې شي، بیا شونې ده چې د افغان سولې په اړه د استانبول غونډه جوړه شي.

خو د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري که څه هم د طالبانو په وړاندیز د ترکیې غونډې د ځنډېدو په اړه څه نه وایي، خو زیاتوي چې افغان حکومت په ترکیه کې جوړېدونکې ناسته کې د ګډون لپاره پوره چمتووالی لري.

بلخوا د چارو شنونکی سبحان‌الله مصباح بیا د ترکیې غونډې ځنډول بې ګټې بولي او وایي، د سولې په اړه د طالبانو دریځ له پیله عادلانه نه و او غوښتل یې پر حکومت فشار راوړي او امتیاز واخلي. هغه زیاتوي چې افغانان د استانبول غونډې ځنډول نه، سوله غواړي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱٤۰۰ د وري لسمه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۳۰مه | ۷۰۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱۸ | ۲٤ | ۱۳ | ۲٦ | ۲٤ |
| ۲ | ۲ | ۷ | ۵ | ۱۲ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۰ | لمر ختل ۰۵:٤٤ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰٤:۲۷ | ماښام ۰٦:۱۲ | ماخوستن ۰۷:۳۳

## نړۍ



**تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر نږدې ۱۲۸ میلیونو کسانو ته ورسېد** ۳

## ملګري ملتونه: په سوریه کې د بشري مرستو لپاره لس میلیارده ډالرو ته اړتیا لرو


ملګري ملتونه وایي، په سوریه کې د بشري مرستو د رسوني او اقتصادي ودې لپاره لس میلیارده ډالرو ته اړتیا لري.

ملګرو ملتونو په بروکسل کې د سوریې د بیا رغونې لپاره د مرستو ټولولو له کنفرانس مخکې ویلي، چې په سوریه کې د بشري مرستو لپاره پوره لس میلیارده ډالرو ته اړتیا لري.

ملګري ملتونه دا هم وایي چې په سوریه کې د اوږدې جګړې له امله اقتصادي زیربناوې زیانمنې شوې دي، بشري وضعیت ناوړه دی، خلک له لوږې سره مخ دي او ناهیلي ډېره شوې ده. سرچینه کاږي چې له همدې امله په دغه هېواد کې د بشري مرستو لپاره لس میلیارده ډالرو ته اړتیا ده او مرستندویه هېوادونه یې باید لاسنیوی وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې روان کال په سوریه کې د کورنۍ جګړې لس کاله پوره شول، خو لا هم دا جګړه په شدت سره روانه ده او هره ورځ پکې سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوړي. د یمن په لس کلنه جګړه د دغه هېواد سلګونه زره کسان وژل شوي او نږدې نیم نفوس یې بې ځایه شوی دی.

## راپورونه: په امریکا کې د یوې چورلکې د لوېدو په پېښه کې پنځه کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، د امریکا په الاسکا ایالت کې چارواکي وایي چې یوه هلیکوپټر چې د سکي د لوبې لپاره یې دې ایالت ته یوه ډله کسان لېږدول، سقوط کړی دی.

د یاد ایالت د چارواکو په خبره، په دې پېښه کې د الوتکې پیلوټ او څلور نور کسان مړه شوي دي. په وژل شویو کسانو کې د چک جمهوریت میلیاردر پیټر کیلنر هم شامل دی. هغه د چک جمهوریت تر ټولو شتمن کس بلل کېده.

د راپورونو له مخې، کیلنر د مالي چارو او ټکنالوژۍ شرکت درلود. د هغه شرکت هم په یوې اعلامیې کې د هغه مرګ تایید کړی دی. په اعلامیه کې ویل شوي چې کیلنر د امریکا د الاسکا په ایالت کې کې د هلیکوپټر د لوېدو په پېښه کې وژل شوی دی.

د الاسکا د سیمه‌ییزو چارواکو په وینا، په پېښه کې یو تن ټپي شوی هم دی چې اوسمهال یې په روغتون کې درملنه کېږي. په ورته مهال د امریکا د ترانسپورت د خوندیتوب ملي بورډ ویلي، چې د الوتکې د لوېدو په اړه یې څېړنې پیل کړي او ډېر ژر به یې پایلې په ډاګه کړي.

## وزارت صحت عامه: ۹.٦ میلیون کودک زیر پنج سال در کشور واکسین می‌شوند



وزارت صحت عامه در همکاری با اداره یونیسف و سازمان صحی جهان دیروز واکسین سراسری پولیو را در کشور آغاز کرد. قرار است طی این کمپاین، ۹.٦ میلیون کودک زیر پنج سال واکسین شوند و هم‌چنان برای کودکان شش تا ۵۹ ماهه ویتامین A داده می‌شود.

وحید مجروح، سرپرست وزارت صحت عامه، هدف از راه‌اندازی این کمپاین را محو ویروس پولیو در کشور عنوان کرده است. او گفته است: «با آن‌که تلاش‌ها برای محو پولیو به شدت ادامه دارد، اما ممانعت‌ها بر تطبیق خانه به خانه واکسن پولیو از سوی مخالفان در برخی مناطق کشور سبب خلای معافیتی در نزد کودکان در برابر ویروس پولیو شده است.»

مجروح هم‌چنان از ممانعت تطبیق واکسین پولیو در برخی از نقاط کشور از سوی طالبان ابراز نگرانی کرده است. به گفته او، در هر دور کمپاین حدود سه میلیون کودک از گرفتن واکسین پولیو محروم شده‌اند که این امر باعث افزایش واقعات پولیو در کشور شده است.

وحید مجروح افزوده است که وزارت صحت عامه یک نهاد بی‌طرف و غیرسیاسی است. او از گروه طالبان خواسته است که در تطبیق روند واکسین پولیو با وزارت صحت عامه همکاری کند و کودکانی را که به دلیل ممانعت آن‌ها از واکسین پولیو باز مانده‌اند اجازه دهند که واکسن شوند.

CoAR
1989

هماهنگی کمک ها برای افغانها
Coordination of Afghani Relief
اعلان داوطلبی

موسسه هماهنگی کمک ها برای افغان ها (CoAR) به کمک مالی MISFA تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (کمک به فقیر ترین فامیل ها) در ولایت پروان ولسوالی‌های سیدخیل، باگرام، سالنگ وجبل سراج به تعداد 2138 پایه ماشین خیاطی خریداری نماید. آنعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (March 30, 2021) الی (April 12,2021) به دست آورد. و آفرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ٤۸ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af



عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې تی ام او ماسټر ډېبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالي چمتو کوي.

www.azizibank.af
1515